# د ژمنیو مرستو وېش؛ د ناورین مخنیوي لپاره اقدام

*محمدرضا باهر*

*د پښتو ترجمه : سید پښتون پښتون*

په روان مالي کال کې دهېواد په ځینو برخوکې د طالبانو بربدونه ډېر شوي، چې له ۷۶ زرو څخه ډېرې کورنۍ دې ته اړ شوي چې خپل کورونه پرېږدي او خوندي سیموته پناه یوسي. دا د افغانستان خلکو او حکومت لپاره کومه نوې مسله نه ده، دطالبانو په ګډون د ترهګرو ډلو وینې تویول، د میلیونو افغانانو ماتم او خلکو لپاره د اقتصادي، امنیتي او ټولنیزو ستونزو رامینځته کولو له امله، نه یوازې دا چې په افغانستان کې خلک د خپلوسیموڅخه بېځایه شوي بلکې په نورو هېوادونوکې یې هم شپږ میلیونه افغانان بېځایه کړي دي.

یوشمېر بېځایه شوي کورنۍ د امنیتي وضعیت د ښه والي او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د هڅو په پایله کې بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي او ځینې کورنۍ لاوس هم له خپل هېواده بهر د کډوالۍ سختې شپې ورځې تېروي او د ستونزو سره مبارزه کوي. د کډوالو چارو وزارت د سروې د پایلو له مخې ددې کورنیو اکثریت شمېر اوو تنو ته رسي.



له بلې خوا جګړو او نا امنیو کلونه په یو شمېر کورنیو باندې سیوری غوړلی چې له نېکمرغه د خپلو سیموڅخه نه و بېځایه شوي او په افغانستان کې هېڅ داسې کورنۍ نه ده پاتې شوې چې له دغه سیوري دې په امان کې پاتې شوې وي. ډېرې کورنیو چې په خپلو اصلي سیموکې یې ژوند کاو په هېواد کې روانو جګړو او نا امنیو یې ژوند اغېزمن کړی و.

کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د خلکو پروړاندې پخپلو دندو او مسؤلیتونو باندې پوهېږي، په ځانګړې توګه په کور دننه بېځایه شوو په برخه کې؛ د ژمي په را رسېدو سره یې د ژمنیو مرستو په پلان کولو سره یې دا هڅه کړې ترڅو ۷۴ زره هغه بېځایه شوو کورنیو سره مرستې وکړې چې خورا زیانمنې شوې وې.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د سروې له مخې، لږ تر لږه یو میلیونو ۳۵۹ زره او ۷۹۲ تنه چې ۱۹۴ زره او ۲۵۶ کورنۍ وې چې مرستو ته یې اړتیا درلوده.

ددې شمېر کورنیو د اړتیاو پوره کولو لپاره ۶، ۵۷ میلیونه ډالرو ته اړتیا وه؛ مګر ددې لپاره چې د ناورین رامینځته کېدو مخه ونیسي کډوالو وزارت په دې توانېدلی چې یوشمېر بېځایه شوي او اړمن خلک چې شمېر یې ۷۴ زرو کورنیو ته رسیږي د بشري مرستو د پوښښ لاندې ونیسي.

د روغتیایي خدمتونو، ګرم ساتلو او خوراکي مواد چمتو کول د وزارت د ژمنیو مرستو په پلان کې شاملې دي چې د بېځایه شوو او اړمنو خلکو بېړنۍ اړتیاوې دي.

د روغتیایي کڅوړو وېش، د ګرځنده ټیمونو له لارې د ځنباک د اوبو، تشنابونو او بېړنیو خدمتونو چمتو کول ، د کمپلو، ماشومانو د جامو، د سرپناه د ځایونو جوړول او د کورونو کرایه او خوراکي مواد لکه: اوړه، غوړي، دال او مالګه د ځلورو میاشتو لپاره د کډوالو چارو وزارت له لورې تر سره شوي دي.

لکه څنګه چې یادونه وشوه د داخلي بېځایه کېدو اصلي لامل په هېواد کې نا امني ده، چې ۲، ۸۷ سلنه کورنۍ د جګړو له امله او ۸، ۲۱ سلنه کورنۍ د طبیعي پېښو له امله خپل کورونه پرېښي او بېځایه شوي دي.

په روان کال کې د داخلي بېځایه شوو کورنیو شمېر ۷۶ زره ۹۴۳ کورنۍ چې ۵۳۸ زره او ۶۰۱ تنه کېږي او په تېر کال کې ۸۸ زره ۴۳۰ کورنۍ چې ۶۱۹ زره او ۱۰ تنو ته رسېده دخپلو سیمو څخه بېځایه شوې وې، چې په دې حساب تر اوسه د ټولو بېځایه شوو کورنیو شمېر ۲۹۲ زره او ۴۱۱ کورنۍ دي چې شاوخوا ۲ میلیونه، ۴۶ زره او ۸۷۷ تنه کېږي.

د بېځایه شوو لپاره د بشري مرستود وېش برنامې هر کال د یوشمېر داخلي او نړیوالو مرستندویه ادارو له لورې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت تر نظارت لاندې ترسره کېږي، چې په روان کال کې ۹۵ زره ۵۹۱ کورنۍ د بشري مرستو وېش څخه برخمنې شوي دي.

همدارنګه دکډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت هڅه کوي چې داخلي بېځایه شوي ځای پرځای کړي.

په دې برخه کې د افغان حکومت لومړیتوب دا دی هغه کورنۍ چې د خپلو سیموڅخه بېځایه شوي دي بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې کړې او سږ کال د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په هڅو ۲۳ زره ۲۶۰ کورنۍ بېرته خپلو اصلي سیموته ستنې شوي دي.دغه شمېرې تېرکال ۲۴ زره او ۲۴ کورنیو ته رسېدې.